**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د ايغور مسلمانان او د ملحدو چينايانو په واسطه د هغوی د هويت له منځه وړل



**(ژباړه)**

**خبر:**

په يوه څېړنه کې چې اتلانتيک مجلې خپره کړه، راغلي: «چين نېږدې يو ميليون مسلمانان د سينګيانګ په سيمه (ختيځ ترکستان) کې په بندخونو کې بنديان کړي دي.» دغې څېړنې د ملګرو ملتونو له کارپوهانو څخه په نقل سره ويلي: «د يادو اډو جوړلو موخه له اسلام څخه د ايغور مسلمانانو لاس اخيستلو لپاره د هغوی د مغزونو مينځلو عمليات تر سره کول دي» ښکاره ده چې چين له اسلام سره تر ټولو کلک دښمن هېواد دی. همدانګه د اينتليجنس مجلې هغه اعلان هم خپور کړی چې چين ويلي: «اسلام هغه ناروغي او تګلاره ده چې له يوه څخه بل ته لېږدول کېږي او مخنيوی يې له هرې شونې لار، که هغه ځورول او شکنجه هم وي، اړين دی.»

**تبصره:**

دغه ټول ځورول او شکنجه په ختيځ ترکستان کې زموږ له مسلمانو ورونو سره تر سره کېږي او هېڅوک د هغوی د خوشي کېدو لپاره حرکت نه کوي. حتا موږ د داسې وړې غندنې شاهدان هم نه يو چې د مسلمانانو حکامو دې دغه عمل غندلی وي. زموږ ايغوري مسلمانان اوسمهال بې وزله او بې کسه دي او پر امت او د مسلمانانو پر حکامو واجبه ده چې له هغوی سره مرسته وکړي. ايا الله سبحانه وتعالی نه دي فرمايلي:

**(وَمَا لَكُم لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلمُستَضعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلوِلدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخرِجنَا مِن هَٰذِهِ ٱلقَريَةِ ٱلظَّالِمِ أَهلُهَا وَٱجعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا)**

[نساء: ۷۵]

***ژباړه:*** *ولې بايد د الله سبحانه وتعالی او هغو مسلمانو نارينه، ښځينه او ماشومانو د ژغورنې لپاره جګړه ونه کړئ چې ناري وهي او وايي: ای الله سبحانه وتعالی! موږ له دغه ښار او کلي څخه وباسه چې اوسېدونکي يې ظالمان دي او پر موږ ظلم*

*روان بولي او ستا له لوري موږ ته داسې تول چارې (سرپرست) او ملاتړې راولېږه چې له موږ سره مرسته وکړي او له ظالمانو مو وژغوري.*

ختيځ ترکستان په تېر وخت کې د اسلامي دولت يوه برخه وه او چين هېڅ وخت له خپلې خاورې سره د دغې سيمې د يو ځای کېدو جرات نه و کړی، خو له هغه وروسته چې اسلامي خلافت سقوط شو او اسلامي خاورې وپاشل شوې؛ ولې د مسلمانانو حکام، چې دنده يې له دغو مسلمانانو سره مرسته ده، ځينې يې بياهم پر دغو ټولو سترګې پټوي او چين ته ځي، ترڅو له هغوی سره ملګري تر لاسه کړي. لکه د سوډان ولسمشر عمر البشير په دې موخه چې د چين او افريقا د مرستو په ناسته کې ګډون وکړي، خپل ځان په بيړه چين ته ورساوه.

د خبرونو په متن کې ويل شوي چې د سوډان ولسمشر البشير به د چين له ولسمشر سره ووينې، نه له دې امله چې په چين کې د ځورېدلو مسلمانانو په اړه له نوموړي سره خبرې وکړي، بلکې د هغو دوه اړخيزو مرستو په اړه چې چين ته د البشير په وروستۍ ليدنه کې د ستراتيژيک ګډون هوکړې په چوکاټ کې لاسليک شوې. د مسلمانانو حکام څومره ناوړه کارونه تر سره کوي. د نبوت پر تګلاره د خلافت له دولت پرته هېڅوک په ختيځ ترکستان کې زموږ له کمزورو او ځورېدلو ورونو سره مرسته نه شي کولی، چې د الله سبحانه وتعالی په مرسته به په نږدې راتلونکي کې تاسيس شي او په هغه ورځ به مومنان د الله سبحانه وتعالی پر مرستې خوشحاله شي.

**ليکوال: ابراهيم عثمان (ابو خليل)**
**د حزب التحرير ـ ولايه سوډان رسمي وياند**
**ژباړن: بهير «وياړ»**